مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۳/۳۰

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۶۸مه برخه

ځان به په تورتیکري عادتکړم
یاري به پرېږدم، تا به مرحسابومه

څنګه دې زړه له مانه تورشو
څنګه په سوال دې زه له خدایه غوښتیومه

ته به تر کومې مسافر یې
زه به تر کومې داسې اوښکې تویومه

د لنډیو په ۳۶۸مه برخه کې تاسو درنو لوستونکو ته دا راټولې کړې لنډۍ وړاندې کېږي:

سترګې دې بیا راښکاره نهکړې
پرېږده چې مړ دې د دیدن په تمهشمه

ستا هېرول، د روح وتل دي
زه زنکده پرځان منم، تا هیرومه

ستا دې د سترګو اشاره وي
که د چړو پرڅوکو لاړ وي، دربهشمه

سر مې په کاڼو د ویشتو دی
چې زه پــه داسې بېوفـا میئـنـېدمه

سبا به بیا سپینې سپېدې شي
تورې تیارې به کډې بار کړې لـه وطنه

سترګې دې ډکې ـ ډکې کېږي
د چا بانه دې په زړګي ښخ شوي دینه

شال کې مې شلپیونده ښه دي
چې لالی وي، نیستي به تېره شي میئنه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

یار مې قبلې طرف ته مخ کړ
زهٔ پهٔ دنیا د بی شرمۍ وربشې خورمه

یا خو به زه په زړه نرۍیم
یا په ریښتیا له زغمه وتې دي غمونه

یار مې ولور له ملکه ورک که
د ځوانۍ عمره په رواج دې تېرومه

یاره نور هیڅ راسره نهشته
دا شلکلنه ځواني تا نه ځارومه

د جلکۍ مورې جنتې شې
لویه دې کړه، مینه له ما سره کوینه

د سهارلمونځ رانه قضا شو
نوی مېئن وم، په دیدن نهمړیدمه

د ټوپک ډز دې پهکې نهوي
د سترګو جنګ دې ترقیامته پورې وینه

د مور له مینې صدقهشم
تبه زما وي، خوله د دې وتلېوینه

د جدايیخوند مې موندلی
چې چېرې ځانتهشم، په چیغووژاړمه

د یار، یاري نه مې زړه موړ کړه
ربه سجدې به درته ټولعمر کومه

د جنازې کټ به مې دروند وي
د دونیاګۍ غمونه ټول راسره دینه

د صبر چل له ما نه زدهکړه
وخت د ښېرا دی، زه دوعا ورته کومه

دولت به پلار و مور ته راوړې
د جدايۍ په تار دې زه ترلېیمه

دولت به پلار و مور ته راوړې
د ببلتانه په اور دې زه سېځلېیمه

د محبت دور دې لنډ و
د ببلتانه دور دې واخیستل کلونه

دا څه جانان، څه يې پښتو ده
ما ته يې جوړ کړل د همځولو پېغورونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د نامعلومي کيسي سر دی**
**چې معلومېږي، زه به غم خوړلی‌یمه**

**د بختورو په نصيب وي**
**په تورماښام د تورو سترګو ديدنونه**

**د تا له خنګه مې زړه نه‌شکيد**
**دا ستا شلېدلي تيکري ورک له ملکه کړمه**

**د توپک‌دز راباندې وکه**
**خو د مکتب لاره مې مه‌نيسه ميئنه**

**د بېلتانه عذاب دې سخت دئ**
**تازه سکروټې مې په زړه نيولي دينهٔ**

**د سعودي په پيسو څه کړم**
**په خپل‌وطن کې به خدای ډېره راکوينه**

**د ميني جنګ کې تا ګټلې**
**د سترګو جنګ کې به دې پاتې‌راولمه**

**د بنداړونو دې څوک نه‌شته**
**ستا پر همځولو اوس جنډې ولاړې‌دينه**

**څوک مې ابی دادا خبرکړئ**
**خوشحاله نه‌يم، له ناکامه ناسته‌يمه**

**ځنګه دې زړه له مانه تورشو**
**ځنګه په سوال دې زه له خدايه غوښتې‌ومه**

**خدايه دا پورې غر سورې کړې**
**چې راښکاره شي د ابی دادا کورونه**

**خدای دې په خپله جانان پوه‌کړي**
**له موره يـودی، ښېـرې نـه ورتـه کـومه**

**ځان دې پردي وطن کې زوړ که**
**ورونو دې جوړ کړل د همت لوړ مکانونه**

**ځان به په تورتيکري عادت‌کړم**
**ياري به پرېږدم، تا به مرحسابومه**

**زموږه وس د کفن نشته**
**که څوک مو وژني، کفنونه دې راوړينه**

**زما له عمر سره سمه**
**ميرات شي غمه، په خندا دې تېرومه**

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

زما د خپلي‌خوښي ياره
زه به له تا نه زړګی ځنګه صبرومه

زما په وطن کي هرڅه ګران دي
يـو د انـسان ويـنـه ارزانـه خرڅـويـنـه

زما پر زړه غمونه بار دي
جانان مي تمه د زړي خندا کوينه

زه به ترې هسي ګيلي نه‌کړم
له سختوورځو که خبرشي، رابه‌شينه

روغ به له روغو سره ناست وي
په زړه رنځور به چېرته بېل له خلکو وينه

پر حافظه به ظلم تېرکړم
تا به ترې هېرکړم، زه به بيا پخوانی‌شمه

په خوله خاموشه انديواله
غېږ دي لږ پورته که چي زړه مي داده شينه

پردي وطن ته مي زړه نه‌شي
نصيب روان دی، زه بندي ورسره‌ځمه

پردېوال غلی، غلی راشه
د دروازې ځنځير مي مور راويښه‌وينه

پر تا مي زيری د مرګ وشه
چي تور رانجه دې پر مخ جوړ کړي کتاروته

په تورپيکي مي يار رنځور کړو
سبا خوری‌زلفي پرېږدم، چي مړ يې کړمه

په سلامونو چاره نه‌شي
غېـږه دې راکړه چي مي تنده ماته‌شينه

په شوګيرو مئن ته وايه
تا په دې ويښوشپو کي څه ليدلي‌دينه

اختر خو بيا په کلي راغی
څوک مسافر دي، څوک مرګي بيولي‌دينه

اوښکي مي پرېږده چي بهيږي
زه لــه وطــنــه پــه ژړا راغـلـــيمــه

اختر د چا د مورميره دی
چي تولي نجوني ورته ځان سمبالوينه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

مینه په تلو راتلو زیاتېږي
موږ کره مهراځه چې زړه دې صبرشینه

ما سره غم په نیمه واخله
ما په راستی درته جانان ویلي‌دینه

ملنګ دې ځان‌ته دوعا وکړي
چې د پردی درګاه له سوال بې‌غمه شینه

ما ته دې زوړجانان رایاد کړ
خدای دې په غم که زنګولي قدمونه

ما چیرته لرې ځای ته بوزئ
چې نه خبرې وي، نه خلک، نه کورونه

مینه مې پټه پاتي نه‌شوه
د جانان غبږ پسې سرتوره ووتمه

ما لیونيکارونه پرېښول
تازه‌کوه اوس پرلنډی‌زنه خالونه

موري بنګړي به په لاس نه‌کړم
یار مسافر دی، بنګړي چا ته واچومه

ما ته د ژوندلارې ازغي شوې
خدایه پرکومه لاره کېږدم قدمونه

لکه چې خاورې مې په خوله شوې
د یار له کوره د سندرو غږ راځینه

لالیه ولي دې ځان تول کړ
ما دې راتلو ته غوړولي‌وو ګلونه

لالیه بیا په مخه راغلي
ما مې د زړه‌زخمونه اوس ګنډلي‌دینه

لاس مې غوښته، غېږه یې راکړه
خدایه زما جانان ته ورکړې جنتونه

له پیغورو سره عادتشوم
پیغور د میني دې کوڅو کې راکوینه

لکه کابل د افغان حق دی
داسي مې حق دی د جانان زلفوسرونه

که زړه دې نه‌وي اکازویه
په زور دې ځوک یاری ته نه‌مجبوروینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که د قسمت مجبوري نه‌وای
ستا پرخنګل به ولې بل کول خوبونه

کميس يې پاس پر پړي زوړ شو
د رنځورۍ علاج يې نه‌شي، مړه به شينه

که بېګانې خوب مې ربښتيا واى
اوس به باچا واى، راپسې به وو فوجونه

حسن په درېڅيزو ختمېږي
د ځمکې‌خوب، د جانان‌غم، د زړه‌فکرونه

چې زما نه‌شوې، د بل مه‌شې
په کور زړه‌شي، چې مې وکړې ارمانونه

جانانه ټينګه‌غيږه راکړه
سترې‌ستومانه له واده راغلې‌يمه

ته به بې‌غمه اوس ويده يې
ما ته طبيب د خوب‌ګولۍ ليکلې‌دينه

ته به په ما پسې خندا کړې
زه خوشحال دې ته، چې لالي خندلې‌دينه

تا خو به تورې خاورې وخورې
ما به هم زوړ کړې، راچاپېر دې دېرغمونه

جانانه چېرته يې لاس راکړه
د سمندرڅپې مې لرې درنه وړينه

وطنه غم دې زورور دى
د جانان غم دې رانه هېرکړلو مېئنه

ورکه‌لاليه، غبر دې ورک شو
غم دې ليوه شو، بند په بند مې ماتوينه

چې مازديګر شي، ښکته لمر شي
پرچا اختر شي، څوک د غم ژړاکوينه

ته به تر کومې مسافر يې
زه به تر کومې داسې اوښکې تويومه

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلاى شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ